سلطان جان کلیوال

۲۰۱۹/۰۲/۱۰

# گـېـلــه مکـــږه!

څوک چې ناست وی د هغو نه څه ګیله کړی؟
خپله نه ځـي ، زولنو نه څـه ګیله کړی؟

چې دی ګل کانـدی سـوری تېتر په پانـو
نـو له څـوکو د اغـزو نـه څه ګیله کړی؟

یـوه ورځ چې روح دی خپل در نه بیلیږی
بیـا له خپلو او پردو نه څه ګیـلـه کړی؟

ته چې پلاریې او په ورانو لارو سرییې
پـلاره! بیـا دی له بچو نـه څه ګیله کړی؟

چې هـواره لارکی لویږی سردی مات دی
له دی غرو او کږنګو نه څه ګیـله کړی؟

چې په خپل قدر پـخپله نـه پوهـیږی
مـشره! هسی پښتنو نه څه ګیله کړی؟

ته چی نن هم خوراولور په کانو وژنی

د وحشت لـه زمـانـو نه څه ګیله کړی؟

په پیسو چی خرڅوی د مور زړوکی

نورله دی تورو ښیرو نه څه کیله کړی؟

"کلیوالـه" چی حیـا له درو ولاړه !!

ګیله مکړه! له ښارو نه څه ګیله کړی؟

ایجکس ـ تورنتو/ کاناډا * فبروری/۶/۲۰۱۹

یادونه:

که چیری ګران لوستونکی و غواړی چی د دی شاعر او لیکوال نوری لیکنی او سرودونو هم ولولی، نو کولای سی چی، پر انځور باندی د «کلیک» په اجرا کولو سره د لیکونکی مقالی او مطالب د «آرشیف» فهرست ته، لار بنودنه تر لاسه کړی!